# د کابل په زړه کې د ژوند کیفیت ته سمون ورکول او د کار د فرصتونو منځته راوړل

د ځوانانو او ښځو دپاره د اړینو آسانتیاوو د برابرولو په موخه د المان حکومت د کابل په جنوب کې د چهلستون د تاریخي بڼ د بیارغونې سره مرسته کوي. دغه عمومي بڼ چې د ۱۲ هکتاره مساحت په لرلو سره په کابل کې تر ټولو لوی بڼ ګڼل کیږي، اوس په یوې موډرنې طرحې سره بیارغول کیږي.

## وضعیت

په افغانستان کې د ناوتریخوالي شخړو څو لسیزو تر ډیره حده د خلکو معیشت او همدراز د هیواد د پایتخت کابل ښار کې د چهلستون د ماڼۍ او د ۱۲ هکتاره په مساحت لوی بڼ په ګډون ودانیز جوړښتونه له منځه وړي دي. هغه څه چې پاتې دي کنډوالې دي. په عین حال کې شنې سیمې د مهال په اوږدو کې له منځه تللي دي. خو د دې پراخیدونکي ښار د ۴,۵ میلیونو اوسیدونکو دپاره یوازې یو څو محدود ځایونه د تفریح او ټولنیزو فعالیتونو دپاره شتون لري.

## موخه

تمه کیږي چې د چهلستون په بڼ کې د شنو ځایونو، باغونو او سپورتي امکاناتو په بیارغولو سره به د کابل ښار د اوسیدونکو دپاره د تفریحي امکاناتو د سمون په لاره کې لویه ونډه واخیستل شي. دغه اقدام به همدارنګه د ښار د اقلیم پر پراختیا باندې مثبته اغیزه وکړي او د کار او روزنې نوي ځایونه به منځته راوړي او په دې توګه به د ښار د اوسیدونکو ټولنیز ـ اقتصادي شرایطو ته سمون ورکړي.

## ګام اخیستنهګام اخیستنه او پایلې

دلته موخه داده چې یوه ښاري واحه منځته راشي چې ښځو او نارینه وو ته په برابره توګه تفریحي، د فراغت امکانات او کارموندنه برابرکړي. دغه عمومي بڼ به د بیارغونې د روان کار په ترڅ کې د خلکو پر مخ پرانیستی وي. د بڼ د بیارغونې تر څنګ، نور ځانګړي ګام اخیستنهګام اخیستنه د چهادهي په ګاونډې ولسوالۍ کې د څه نا څه ۳۵۰۰۰ تنو اوسیدونکو دپاره د ژوند د شرایطو د سمون ورکولو په موخه پلې کیږي. د مثال په توګه، د حفظ الصحی د یوه سیستم منځته راوړل او د کوڅې د برښنا

## په یو نظر کې



د کابل په مرکز کې فعالیتونه

**پروګرام:** د چهلستون د بڼ بیارغونه

**دستور ورکوونکي اداره:** د المان د بهرنیو چارو وزارت

**شریک:** د آغاخان فرهنګی بنسټ

**پلي کونکي اداره:** د KfW پراختیایي بانک

**Provinces:** کابل

**د پروګرام موخه:** د شنو ځایونو، باغونو او د سپورت د اسانتیاوو په جوړولو او د فرهنګي غونډو دپاره د ځای په برابرولو سره د بیلابیلو لوړ کیفیت لرونکي تفریحي امکاناتو د پراخولو سره

**Overall term:** له ۱۳۹۳ نه تر ۱۳۹۶ پورې

## اضافي معلومات

- Fact sheet: Improving Quality of Life and Creating Job Opportunities in the Heart of Kabul (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-Chihilsitoon-(Pashto_0.pdf
- Fact sheet: Revitalisation of Chihilsitoon Park (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/201

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

احداثول په تدریج سره د نومړي ولسوالۍ بیخبنا ته سمون ورکوي.

د دې دپاره چې تامین شي چې ټول پلان شوي ګام اخیستنهګام اخیستنه د سیمې د اوسیدونکو د اړتیاوو سره سم طرحه کیږي، د یوې ځائیزې سروې پایلې د ځانګړو پلانونو د طرح کولو او د کوچنیو او مایکرو مداخلو د لومړیتوب د ټاکلو لپاره کارول کیږي.

د لازیاتو تفریحي او فراغت د امکاناتو د منځته راوړلو تر څنګ، د چهاردهي د ولسوالۍ د اوسیدونکو د کارموندنې پوتنسیال د ګنډلو، ګلدوزي، غالۍ اوبدلو، ترکانۍ او باغدارۍ د شپږمیاشتیني روزنیزو پروګرامونو د جوړولو له لارې زیات شوی دی. د ۱۱۰۰ تنو نه زیات ښځې او نارینه تر اوسه پورې په نومړو کورسونو کې ګډون کړی دی. د روزنیزو کورسونو په پای کې ټولو ګډونوالو ته د اړینو وسایلو یوه مجموعه ورکړل شوه ترڅو هغوی وکولای شي د خپلې خوښې په ځانګه کې کار وکړي. د مثال په توګه ښځینه ګډون والو د ګنډلو په کورس کې د ګنډلو ماشینونه په لاس راوړل. له دې نوښت څخه د افغانستان خلکو ډیر ښه هرکلی کوي او نور روزنیز کورسونه هم دوام لري. دغه اقدام د ښځو د کارموندنې څخه هم ملاتړ کوي.

د چهلستون د بڼ بیارغونه او د کارموندنې په اړه ټول ګام اخیستنهګام اخیستنه او بیخبنایي تدبیرونه په دې توګه د کابل د ښاري وګړو په ټولنیزه-اقتصادي وضعه کې مثبته ونډه اخلي. د نومړي بڼ څخه د فرهنګي غونډو دپاره د کوربه په توګه هم ګټه اخیستل کیدای شي.

(7-Chihilsitoon-Pashto.pdf

## اړیکه

Kristin Laabs KfW د kfW د کابل
دفتر رئیس kerstin.laabs@kfw.de